# بیا هم د جنرالانو په ژبه خبرې!

پاکستان د خپل لنډ ګنډ تاریخ په اوږدو کې د سیمې او په تېره بیا د افغانستان په اړه تل د جنرالانو په ژبه غږېدلی دی . پاکستان کې ملکي سیاستوال ګونګي او لومړی خبره تل په عسکري ژبه کیږي.

د پاکستاني پوځ یو پخوانی بولندوی او د ملي امنیت نادولتي موسسې مشر جنرال اسلم بیګ ، تازه ورځو کې د « امت » په نوم د پاکستان د یوې اردو ژبې ورځپاڼې سره مرکه کړې او څو پوښتنې یې ترې کړې ، دلته د موضوع په تړاو د لندون او بېلګې په موخه د نوموړي دوه پوښتنې او ځوابونه رااخلم .

پوښتنه : د افغانستان خلکو د افغان دولت او امریکا تر منځ په کېدونکې ستراتیژیک تړون د نیوکې پټوګه لاریونونه کړی ایا دا لاریونونه د حیرانتیا وړ نه دي ؟

ځواب :

د کابل ــ واشنګټن په ستراتیژیک تړون د خلکو نیوکه څرګندوي چې طالبان د افغانستان سیاسي ډګر ته ننوتي او هڅه کوي له دې لارې خپلو موخو ته ورسیږي . بلخوا دا لاریونونه څرګندوي چې خلک د طالبانو ملاتړ کوي . همدارنګه باید دا خبره په پام کې ولرو چې طالبان د پخوا پشان یوازې پوځي چارو ته پاملرنه نه کوي بلکې افغانستان کې د سیاسي بدلون په لټه کې دي . دا باید هم ووایو چې له افغانستانه د امریکا تر وتلو روسته یوازې طالبان دی چې ددې هیواد دولت اداره کولای شي .

نوموړی د یوې بلې پوښتنې په ځواب کې که څه هم پاکستان پورې اړه لري ، خو پاکستان او سیمه کې د پنجابي پوځ لید لوری او ستراتیژي په ګوته کوي ، وایي :

پوښتنه : ایا تاسې پاکستان کې د یوه غیر قانوني اقدام یا کودتا وړاند وینه کولای شئ ؟

ځواب : کله چې بحران څوکې ته ورسیږي هر څه پیښېدلای شي ، له دې کبله د داسې حالت سره د مخامختیا لپاره مخکې تر مخکې چمتووالي پکار دی .

د پاکستان پوځ دې پخوانی مشر مخکې خپله یوه مقاله کې لیکلي و « د هند او متحده ایالاتو تر منځ د ستراتیژیک ملګرتوب او د ګډې خارګري ادارې رامنځته کولو تړون لاسلیک شوی دی .

په دغه تړون کې CIA ، د اسرائیلو خارګره اداره ، موساد ، د انګریزانوخارګره اداره ام شپاړلس، د هند استخباراتو اداړې د پلټنو او څېړنو څانګه او نوراستخباراتي سازمانونه چې افغانستان کې فعال دي ګډون لري . دا ټول همدا اوس د پاکستان، ایران، چین، روسیه او نورو اسیایي هیوادو د بې ثباته کولو په لټه کې دي .

د بیګ په خبره د قبایلي سیمو د کمربند ناراضیان یا مخالفین په سروبي او کندهار کې روزل کیږي او بیا شمال لویدیځ ایالات ته د عملیاتو لپاره استول کیږي .هممهال د لشکرګاه او ناوې په پوځي اډو کې د ازاد بلوچستان د خپلواکې پوځ جنګیالي بلوچستان ایالات ته د سقوط په موخه روزل او فعالیږي او په پیسو او وسلو سمبالیږي .

په شمال لویدیځ ایالات کې یوه نوې ډله شکل نیسي ، دوی په مقاومت لاس پورې کړي . د پاکستاني طالبانو په نوم تحریک د قبایلي سیمې امنیت او د ایالت نورو ارامو سیموته یو جدې ګواښ رامنځته کړي دی . »

د راپورنو پر بنسټ دا جګړه به د متحده ایالاتو او هند لپاره یو مرستیاله جګړه وي . په بدل کې د پاکستان پوځ په څلور جبهو کې مصروف ساتل شوي دی . د پاکستاني قبائیلي سیمو منځ کې د افغاني طالبانو پر وړاندې جګړه ، په شمال لویدیځ ایالات کې د پاکستاني طالبانو سره مقابله ، د بلوچستان د خپلواکې غوښتونکو پر وړاندې جګړه ، د بمبی چاودنو څخه ورسته د هند او پاکستان پر پولو د هند پوځ شمیر ډیریدل . دا ټول پو ځ لپاره یو دروند بار او ګران کړکیچن حالات رامنځته کړي دي . له همدی سره بې کچه د پوځ زیرمو څخه استفاده کیږي »
له دې کبله اسلم بیګ د خپلو ټولو اندیښنو د درملنې لپاره پاکستان کې د پوځي کودتا او په افغانستان کې د طالبانو د حکومت لپاره سترګې نیولي دي .
داسې ښکاري د اسلم بیګ موخه داوی په کور دننه افغانستان کې هغه ډلې چې ځان د دولت اپوزیسیون بولي او یا هغه مجاهدین چې د دولت پر لوړو څوکی ناست دی امریکا سره د ستراتیژیک تړون په مخالفت کې د پاکستان په لارښوونه او امر د طالبانو د کورنی لښکر دنده ترسره کوی .

بلخوا تازه ورځو کې د پاکستان پخوانی ولسمشر او د پوځ لوی درستیز پرویز مشرف په واشنګټن کې یوې غونډې ته په وینا کې ویلی دي :
« که افغانستان هند ته ډیر نږدې شي نو د پاکستان څارګره اداره ای ایس ای دې ته اړتیا لري چې افغانستان کې د خپلو ګټو د خوندیتوب لپاره ګامونه پورته کړي .»
همدارنګه « نوموړي زیاتوی اوسمهال افغان ډیپلوماتان ، امنیتي ځواکونه او د څارګرو ادارو کارکوونکي د زده کړو لپاره هند ته ځي . پرویز مشرف پر افغانانو تورلګوي چې د پاکستان پرضد له هند څخه دکتورین ترلاسه کوي او بېرته راځي : موږ باید د دغو چارو جاري ساتلو ته اجازه ورنه کړو، که داسې کیږي نو هیڅوک باید په غوسه نه شي که پاکستان ای ایس ای ته امر وکړي چې په افغانستان کې د خپلو ګټو د ساتلو لپاره مقابلې ته مخه کړي او په وړاندې یې ګامونه پورته کړي . »

جنرال مشرف د امریکا ږغ ټلویزیون له یوې خپرونې سره چې وروسته بیا د اکپرس پاکستانی ټلویزیون له لارې هم خپره شوه ، د هغې پوښتنې په ځواب کې چې افغانستان به د بهرنیو هیوادونو په جګړه کې د پاکستان تر څنګ ځرنګه ودریږي ویلي :

« زه دقیقاً نه پوهیږم، زه فکر کوم چې دا د لیونتوب خبرې دي، زه په دغو خبرو چې کرزي کړي خوښ نه یم »

بل جنرال حمیدګل د پاکستان د څارګرې اداري پخواني رییس څو مهال وړاندې په یوه ځانګړي مرکه کې ویلي وو ترڅو بهرني سرتیري له افغانستان څخه ونه وځي ، افغانستان ته سوله نشي راتلای . هغه وایي چې طالبان به بېرته افغانستان ته ورګرځي .

نوموړي همدارنګه ځو ورځې مخکې ویلي و چې حقاني یو پاکستانی دی ، چې د حقاني او د هغه د ډلې لخوا پرې هیڅ د رد ځواب وانه وریدل شو ، یاني چوپتیا د رضا نښه ده !

د حقاني دې دا پنجابیتوب مبارک وي !

په یوه بله پراختیا کې د پاکستان د پوځ ویندوی جنرال اطهرعباس فرانس پریس خبري اژانس ته د اکتوبر په ۲۸ مه د امریکایي پوځي چارواکو دا ادعا رد کړه چې ګنې د دغه هیواد پوځیان وسله والو سخت دریځو ته اجازه ورکوي چې له خپلې خاورې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو پر پوستو بریدونه وکړي.« زه دا په کلکه ردوم ، دا بې اساسه او غلطه ده.»
دا چې پاکستاني پوځیان خپله د افغانستان پر خاوره ، د کونړ او نورستان پر ولایت توغندي ولي داجنرالان د افغانانو په نیوکو تل چوپه خوله پاتیږی .

لږه موده وړاندې د پاکستان د پوځ لوی درستیز جنرال اشفاق کیاني ویلي وو «  امریکا ته دا یادول پکار دي چې پاکستان اټومي ځواک دی ، اټوم بم لري او د افغانستان او عراق سره دې نه پرتله کیږي. »
پاکستاني جنرالان چې د هغه هیواد په سیاست کې برلاسي دی او غواړی د پاکستان په کور دننه ستونځې د برچې په زور حل کړي په  سیمه او نړۍ کې  بدلېدونکی حالات هم یوازې پخپلو عسکري عینکو کې ګوري .
دې جنرالانو ته د امریکا د ولسمشر اوباما په قول د لیبیا د پخواني مشر معمر القذافی مرګ د زده کړی ښه بېلګه ګڼل کېدلای شي !

اخځونه :
بېلا بېلې بریښناپاڼې
د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر  ۲۹ مه
سرلوڅ مرادزی